# د قېدي خطونه

یونس جان / ترجمه: مشتاق مجروح یوسفزے

ډسټرکټ جېل ابېټ اباد
26 اکتوبر 1944

نن زما د پېدائش ورځ ده. اتویشت کاله پوره شو. زړۀ کښې مې ډېر ارمانونه ځائے کړي دي او هغې بې قراره کړے هم یم او سترګو کښې مې انتظار دېره شوے دے. څو میاشتې مې یواځې تېرې کړې او معلومه نۀ ده چې نورې څومره میاشتې او کلونه به داسې تېروم.

**نه چهیړ اې هم نشین کېفیت صهبا کې افسانې**
**شراب بې خودي کې مجهے کو ساغر یاد آتې هېن**

پۀ دنیا کښې څۀ کېږي او څۀ روان دي او مونږ چرته یُو. د حالاتو مجبورئ پۀ لکونو خلق کېر کړي دي او د ملک غوره طبقه د هغوي د خدمت نه محرومه ده.

د تنهایۍ دې قېد د نورو ځیزونو نه علاوه په خوب او خوراک هم راله اثر پرېباسلے دے. نۀ خوب راځي او نۀ راته لوږه محسوس کېږي او د دې نتیجه ښکاره ده چې بده ده. خو زما نه زیات ډاکټر ګپتا پرېشانه دے. ځکه چې هغه راته د دارو خوړلو نه زیاته د خوراک څښاک کولو وېنا کوي. خو زما زړۀ ته هیڅ شے نۀ کېږي. څو ورځې کېږي چې هغۀ راته دوه اونسه کریم مقرر کړي وو چې هغه په مېوه اچوم او خورم ئې. په هغه ورځ انګور په لاس راغلي وو لږ غوندې کریم مې پرې واچول او ومې خوړل. سم د ماښامه مې ګېډه کښې ګړبړ شروع شو او ټوله شپه مې دستونه وشو. د هغې نه پس څو ورځې د پاځېدو نۀ وم. حالانکې دا کریم به ما په مېوو اچول او ډېر زیات به مې خوړل او ښۀ به هضمېدل. خو اوس د دې د خوراک نه هم پاتې یم. نن سبا اوولټېن څښم. تشو پیو څښلو خو پوزې له راوستے یم.

یوه ورځ جرنېل صاحب راغلو. د هغۀ نه راته معلومه شوه چې ډاکټر ګپتا په کلکه زما چرته داسې ځائے ته د بدلۍ سفارش کړے دے، چرته چې زما دوستان وي او زۀ ورسره خوشحاله پاتې کېدے شم ځکه چې د هغۀ په خیال زما ټول تکلیف د تنهایۍ له وجې دے. جرنېل صاحب زما رائې وپوښتله نو ما ورته ووې چې زۀ ستاسو قېدي یم چې څۀ راسره کوئ کولے شئ. زما هیڅ مطالبه نشته. هغۀ راته د بېډمنټن کولو ووې او دا ئې هم ووې چې داروغه یا د جېل بل یو افسر به درسره لوبه کښې شرکت کوي. دې سره مې وخت لږ ښۀ تېر شو خو د شپې مې تبه شوه اوس د هغې علاج روان دے. یعنې کۀ دا نۀ وي نو دا او کۀ دا نۀ وي نو دا. خو فکر راسره نشته ځکه چې:

**کسي کو مصلحت اچھي که اپنا یه جنون بهتر**
**سنبهل کر گرني والو هم تو گرگر کر سنبهلتي هين**

یو خوا خو دا تنهائي ده چې وژل کوي خو یو بل مصیبت هم رادوخاره شوے دے چې هغې ډېر ناتوانه کړے یم. پولیس واله اواره ګرد او پاګلان رانیسي او ډسټرکټ جېل کښې ئې ساتي. تر پنځلسو ورځو د هغۀ پوره معائنه کوي. کۀ په حقیقت کښې پاګل وي نو خپلوانو ته ئې ووئیلے شي چې د دۀ د اخراجاتو بندوبست وکړئ او چرته پاګل خانې ته ئې ولېږئ. ګني نو حکومت ئې خپله پاګل خانې ته واستوي. نن سبا داسې لېوني ډېر راغلي دي او زما د کوټې سره نزدې ئې اچولي دي. هر وخت د دوي بکواس اورم. په اول اول کښې خو راته یو عجیبه شے ښکارېدو او وخت به مې پرې تېرېدو خو اوس خو ترې پوزې له راغلے یم. نۀ ترې سحر ارام کولے شم نۀ ماښام، هر وخت ئې یو شور غوبل جوړ کړے وي. د دوي حال چې لیکم نو خپل یو زوړ شوق هم رایادېږي. څو کاله ئې کېږي لاهور کښې د نوابزاده امین الله خان سره دېره وم. د هغۀ کور د پاګل خانې سره جوخت وۀ. هر سحر به یو څو پاګلان یو سنتري د چکر دپاره راایستل. ما به هغوي سره خبرې کول غوښتل او چلونه به مې جوړول چې څنګه به د دوي سره لاندې وځم. خو هغوي به ټول چپ وو او زۀ چرې کامیاب شوے نۀ وم. شاید چې الله پاک مې دا ارمان پوره کولو ځکه ئې د هغوي په مینځ کښې راګېر کړم.

**مدت سي آرزو تهي که سیدها کرې کوئي**



ښه نو د هغوي حال لیکل شروع کوم. دا د عقل او فهم نه خلاص او د دنیاوي سود او زیان نه بې خبره خلق څو قسمه دي. بعضې داسې دي چې خاموشه پراتۀ وي. مثلاً یو تن خو په کښې کمال کړے دے. چې جېل ته راغے نو هم چپ وۀ. دفتر والو ډېره خواري وکړه چې خپل نوم د پلار نوم او حسب نسب وښیي. اخر چې ډېر ئې مجبور کړو نو خپل نوم ئې خاموش او د پلار نوم ئې نامعلوم ولیکلو. تر اوسه دې د مور ځوي خپله ګونګه روژه نۀ ده ماته کړې. بس چې خوراک څښاک وکړي نو غرق اودۀ شي یا چرته یو ګوټ کښې کښېني او سر خوځوي. جامې هم ورته جېل واله اغوندوي. د دۀ برعکس دویم قسمه هغه پاګلان دي چې هر وخت ئې شور غوبل ساز کړے وي او هم د دوي له وجې زۀ حیران او پرېشان یم. داسې معلومېږي چې دې لېونتوب سره د دوي پرپوس مضبوط شوے دے ځکه چې دې هر کس او ناکس سره په زوره زوره خبرې کوي. دا د دې پاګلانو دوه غټ قسمونه وو. خو هر یو

مثال نۀ لري. کۀ یو تن ټوله ورځې د بکواس کولو عادت دے نو دوېم تمامه ورځ د سندرو وئیلو شوق لري درېم کلهمه ورځ د ژړلو. د دوي د کوټو نه داسې اوازونه راوچتېږي چې الله دي ترې هر چا له پناه ورکړي. څوک ژاړي، څوک خاندي او په چا د موسیقۍ پېریان ناست دي.

یو پاګل بربنډ لغړ دننه راغے او وې وئیل چې سارۀ دي نو دوه کمبلې ئې بود کړې. په سبا چې داروغه په ګشت راغے نو دې ورته بیا دغسې بربنډ لغړ مخې ته شو او ښۀ پرجوشه سلام ئې ورته وکړو. داروغه ورته ووې چې بېګا دي سارۀ خو نۀ وو شوي، نو دۀ سمدستي د خپلې کوټې نه یوه اوږده رسۍ رابښکله او راغے. داروغه ورته ووې دا څۀ دي؟ نو وې ئې چې ما سره پټکے نۀ وۀ، ستا هغه کمبلې مې پکار شوې او هغه مې پټکے کړې. یو پاګل داسې وۀ چې دال به ئې واخستل نو هغه به ئې په دېوالونو مږل او بیا به ئې ژړل چې چا زما نه دال وخوړل. د دۀ ژړا به ختمېده بېخي نۀ، د جېل عملې به ورله نور دال راوړل خو دۀ به هغې ته کتل هم نۀ، هغوي ټولو ته به ئې بددرد وئیل او وئیل به ئې چې ماله هم هغه دال راکړئ کوم چې ماله خور رالېږلي دي. اخر به سترے شو نو اودۀ به شو او دغسې به ورته لږ ارام نصیب شو.



یوه بوډۍ ښځه وه چې دري ځامن ئې پرله پسې په جنګ کښې مړۀ شوي وو، هغې به ټوله ورځ چغې وهلې او ژړل به ئې او یا به ئې په اوچت اواز فوجي حکمونه کول. یعني لفټ ټرن، رائټ ټرن یا فائر کرو وغېره. بل یو لېشتینک خو ډېر لوئے سیاستدان دے. هر وخت څوړند سر ناست وي او چې څوک ئې مخکښې تېر شي نو ودرېږي او تقریر شروع کړي چې د جېل عملې هغه جرمني ته د تلو نه منع کړے دے ګني نو هغه غواړي چې لاړ شي او د دواړو ډلو روغه وکړي. یوه ورځ زۀ د هغۀ د کوټې مخې ته تېر شوم نو چې څنګه ئې زۀ ولیدم سمدستي راغے او یو شلېدلے کاغذ ئې را کړو او راته ئې ووې چې دا د روس او جاپان صلح نامه ده. دا ولوله او بیا ئې واپس راکړه چې زۀ ئې منظوره کړم. لس دولس ورځې خو ډېر لرې لرې والوت. بیا ئې په بربنډه ورزش شروع کړو او جامې به ئې په سر اېښې وې. دۀ به هم کمبل شلوله او پټکے به ئې ترې جوړولو او اکثر به ئې د قېدي نمبردار د لاسه وهل خوړل. چې کمبلې به پرې بندې شوې نو دې به ئې په تکل

کښي ووتلو او چي د چا کمبل به په لاس ورغله نو ډېره په لاپروايۍ به ئي هغه ټوکړي ټوکړي کړه او په سر به ئي وتړله. روزانه به نوي تماشه وه ځکه چي د چا کمبل به وه، هغۀ به رپورټ وکړو نو جېل واله به راغلل او ښۀ به ئي خوشت کړو. اوس اوس د جېل نه لاړو او کوم خوند او رنګ چي هغۀ جوړ کړے وۀ هغه اوس ختم دے.

دا خو وې د پاګلانو خبري د دوي نه علاوه يو بل قسم مخلوق هم کله کله راځي. دا هغه خلق وي چي عموماً چرته نشه ايز څيز زيات مقدار کښي وڅښي او دماغي توازن ئي خراب شي. يا خو دوي خپله ډېره زياته نشه کړي وي او يا پري بل چا کړي وي. تر څو چي د دې خمار کوز شوے نۀ وي، دوي رنګ په رنګ تماشي کوي. يو ځل يو د منځومانه قد او عمر واله يو سړے داسي حال کښي جېل ته رادننه شو. د رادننه کېدو سره ئي پرلت وغزولو او کښېناستو او ټولو ته ئي کنځل شروع کړل. لږ وخت خو جېل والو غږ ونۀ کړو خو اخر چي تنګ شو نو بيا ئي په زور پاڅولو، هغه لکه د غر په ځائے کلک شوے وۀ. په ډېرو کوششونو او وهلو ټکولو ئي يوي کوټي ته دننه کړو. دري ورځي ئي په اوچت اواز کنځل کول او فرش ئي نړولو او چي کومي د سميټو ټوکړي به ئي رانړولي وې په هغې به ئي نور قېديان ويشتل. نۀ ئي خوراک وکړو او نۀ څښاک. ځکه چي څوک نزدې ورتلے نۀ شو. په څلورمه ورځ ئي روتۍ وغوښتله او ښه په مړه ګېډه ئي وخوړه او اودۀ شو. تر درېو ورځو به د دۀ د کوټي ور لري کېدو، روټۍ به ورته کېښودي شوه، هغه به ئي خوړه او بيا به اودۀ کېدو. په لسمه ورځ په هوش کښي راغے. ډاکټر چي د هغۀ معائني له تللو نو زۀ ئي هم د ځان سره بوتلم. د هر سوال جواب به ئي ډېر په عاجزۍ ورکولو او وئيل به ئي چي بيا به داسي نۀ کېږي. معلومه شوه چي چرته په جنج کښي شريک وۀ او ملګرو پري بنګ ښۀ ډېر څښولي وو او دې حال ته ئي رسولے وۀ.

چي څنګه دې لاړو نو يو بل راغے چي مونږ ئي په عذاب کړو. جېل ته د رادننه کېدو په وخت دۀ هم هغه ډانس وکړو چي غږ ئي مۀ کوه. بيا ئي بکواس او بدرد وئيل شروع کړل چي نۀ ئي سر وۀ او نۀ ئي پښي. کله کله به ئي سندره هم شروع کړه اواز ئي دومره بد نۀ وۀ خو د خُلې نه به ئي دومره زګونه تلل چي ورسره خوا کښي ودرېدل به ګران وو. وروستو معلومه شوه چي د ذات نه بنګي وۀ او د ښځي د شرارت په وجه ئي څۀ څښلي وو. پنځلس ورځي ئي دا حال وۀ. کله به ئي کنځل کول او کله به ئي سندري وئيلي. اوس ورله ښځي پاکي جامي راوړي دي او دۀ هم لامبلي دي او خلقو سره سلام کلام ئي هم شروع کړے دے.

دا قسمه واقعي په ژوند کښي په عامه توګه بې خوندي او رنګيني دواړه پېدا کوي. د خپل وس خبره نۀ ده ځکه نو مجبوراً به ئي برداشت کوي او اوس خو ګرمۍ هم ښۀ زور کړے دے. خو د چنار ونه د خدائے لوئے نعمت

دے. کۀ دا نۀ وي نو چې مونږ به څۀ کول. ټوله ورځ د دې د سپوري لاندې ناست يم. کله څۀ لولم، کله څملم خو څۀ به ښه وي چې دا شور غوبل نۀ وي ځکه چې زۀ د هغې نه وتښتم او خپلې کوټګۍ ته ننوځم نو هلته ګرمي وي او داسې محسوسوم لکه چې تنُور وي. کتاب ليکل ډېر خوند راکوي خو سپرنټنډنټ د دې شغل خلاف دے او هغه نۀ غواړي چې زۀ څۀ ذهني بوج اوچت کړم او بيا دې چشمو هم تنګ کړے يم.

بهر حال کتاب مې په څلورو برخو وېشلے دے يعنې ابتدائي خيالات، مذهبي خيالات، کلچرل خيالات او سياسي. نن سبا د مذهبي خيالاتو د ودې تذکره لولم او ورسره ليکل هم کوم. په هندومت، عيسائيت او اسلام مې کافي مساله جمع کړې ده. وخت په وخت د افلاطون ري پبلک، د نټشے دس اسپيک زار اتوشترا او د سپنګلر کلائن آف دي ويسټ هم ګورم. د هغې راباندې ډېر اثر کېږي او ډېرې فائده منې خبرې مې ذهن کښې ناستې دي. مثلاً باوجود د صدو تېرېدو اوس هم د افلاطون مقالې نوې ښکاري. کمالي خلق وو. يعنې سقراط، بقراط، ارسطو او پلېټو. د دوي د پايې خلق مونږ سره هم وو خو افسوس چې د هغوي هيڅ حال احوال مونږ له مخې ته نۀ دے راغلے. مونږ ته خو دا ښودلې شوي دي چې د دنيا تاريخ د ګورګانو نه راروان دے او په دوي به ختمېږي. حالانکې دوي د دوو زرو کالو هم نۀ دي او زمونږ قصه د زرګونو کلونو ده. زۀ په دې زوړ داستان پسې شوے يم مګر:

**رو مېں هې رخش عمر کهاں ديکهيې تهمې**
**نې هاتهـ باګ پر هې نه پا هې رکاب مېں**

چې څومره مطالعه کوم دومره حېرانېږم او چې څومره سوچ کوم دومره پرېشانه کېږم. خاص کر چې په دماغي نشوونما کښې د ابشيا کردار مخې له راځي او دا چې د دنيا ټول مذهبونه دلته پېدا شوي دي. نو په دې خبره د پوهېدو دپاره د همېشه ژوند پکار دے. په هر خيال پوهېدونکي په هره صدۍ کښې راغلل او خپل اثرات ئې پرېښودل. د دې ټولو نچوړ به څنګه حاصل شي او بيا دومره ډېرې ژبې او په هغې کښې بې شمېره ليکلي شوي څيزونه په يو تار کښې پېيل ډېر ګران دي. دلته خو صرف د انګرېزۍ مرسته شته چې د هغې ليکونکي هر څيز ته په خپل نظر کتلي دي او هغه شان ئې مونږ ته ښودلې دے. دې خوا مې د شاعرانو په دنيا او د هغوي په الوت نظر پرېوځي نو لا مې وار پار خطا شي. څۀ رنګه ذهنونه ئې وو او څومره وسعت ئې لرلو. د ژوند باريکۍ ئې څومره په اسانه معلومې کړې دي او څومره په اسانه ئې مونږ ته ښودلي دي. د دې ټولو مشکلاتو باوجود دلته کتاب هم نشته او استاذ هم نشته بس دعا مې ده چې الله پاک دې خبر کړي:

**همېں پکار نه اب اې عروس شبنم و ګل**
**همېں نه ډهونډ که هم بې کنار صحرا هې**

***